DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال پنجم شماره ۲۳۶
شماره مسلسل ۸۶۲
یکشنبه ۲۴ میزان ۱۳۸۴ هش
۱۳ رمضان المبارک ۱۴۲۶ هـ ق
16 October, 2005

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

ولسمشر حامد کرزي د خوست په لوی جومات کې په چاودنه خواشې څرګنده کړه

ولسمشر حامد کرزي دخوست ولایت دیوه جامع جومات خطیب او دعلماوو دشورای غړي په وژنه ژوره خواشیني څرګنده کړه او ځایي امنیتي ارګانونو ته یې دعاملینو د ژرترژره نیولو امر وکړ.

دخوست دعلماوو شورا غړی مولوي محمد خان ، تېره ورځ هغه وخت ووژل شو کله چې دجمعې دلمانځه پر مهال په جومات کې درنه چاودنه وشوه په دغه پېښه کې ۱۵ تنه لمونځ کونکي هم ټپیان شوي دي.

دتلې په ۲۳ مه له ارګ څخه په خپره شوې مطبوعاتي پاڼه کې کرزي دغه چاودنه داسلام په سپېځلي دین او دیني عالمانو برید ګڼلی دی.

په دغه پاڼه کې دکرزي له خولې راغلي:

« زه له دغه جنایت څخه ... په ژوره توګه متاثره شوی یم او هغه په ټینګه محکوموم. »

کرزي همدارنګه وژل شوی مولوي یو دیندار ، سربندونکی شخص بللی او زیاته کړې یې ده چې هغه داسلام مبارک دین او دافغانستان خلکو ته دخدمت په لاره کې ډېر زیارونه ګالل وو. ۴مخ

فرار از زندان به وسیله نصوار

در اثر شلیک پولیس بر زندانیانی که روز ۲۲ میزان از محبس شهر مزارشریف ولایت بلخ فرار نموده بودند ، یک تن آنها کشته و یکی دیگرشان مجروح گردید.

شیر جان درانی، مسؤول مطبوعاتی قوماندانی امنیه ولایت بلخ به آژانس خبری پژواک گفت که این واقعه حوالی ساعت ۴:۳۰ عصر روز گذشته ، زمانی به وقوع پیوست که زندانیان با پاشیدن نصوار بر چشم های محافظ زندان، از زندان بیرون شدند.

به گفته وی، د راین واقعه ۱۷ تن زندانیان مؤفق به فرار گردیده اند ولی پولیس درجستجوی دستگیری آنها میباشد.

درانی افزود : « حین تعقیب فراریان ، پولیس بر آنها شلیک نموده که یک تن آنها راکشته و یک تن دیگر را مجروح نمودند. » ص۴

تصادم موتر پی ار تی با مین

موترهای کاروان پی آر تی هالند ، حوالی ساعت هشت و نیم صبح ۲۳ میزان در مسیر شاهراه بغلان - کندز واقع در بیست کیلومتری شهر پلخمری ولایت بغلان ، با انفجار ماین مواجه شدندکه در اثر آن یک موتر آنها تخریب گردید.

سمونوال غلام دستگیر، آمر کشف قوماندانی امنیه بغلان به آژانس خبری پژواک گفت که کاروان تیم بازسازی ولایتی هالند (PRT) به سوی کندز در حال حرکت بود که در ۲۰ کیلومتری پلخمری در منطقه پرچاوه یک موتر آنها با ماین تصادم نمود.

قرار معلومات وی ، در انفجار یک موتر نوع کروزین آنها تخریب شده است ،اما تلفات دیگر جانی و مالی در قبال نداشت. ص۴

انفجار در تانکر تیل

انفجاری در یک تانکر حمل کننده تیل به نیروهای امریکایی در بازار تورخم ، واقع در نزدیکی سرحد پاکستان به وقوع پیوسته که دکاکین چهار طرف را خساره مند نموده است. رحیم الله، یک تن از دکانداران بازار تورخم به تاریخ ۲۳ میزان به آژانس خبری پژواک گفت که انفجار ساعت شش و نیم شب گذشته ، زمانی به وقوع پیوست که ازدحام مردم در بازار کم بود ص۴

سرمقاله

د ښوونکو ناخوښي او د درسی بهیر ګډوډی

دیوې ټولنې دژوندانه دجوړولو لپاره تر ټولو برخو زیاته تکیه په تعلیمی مرکزونو باندې وي ځکه چې دهمدغو مرکزونو له لارې دښوونکو او استاذانو په هر اړخیزه همکاری او ځانګړې پاملرنه دهیواد دجوړولو لپاره وړ کادرونه روزل کیږي. چې ددغو کادرونو دروزلو لپاره لومړنی بنسټ د ښوونکو په لاس کیښودل کیږي.

خو دریغه چې په هیواد کې دټولو دولتی کارکوونکو او په تیره بیا ښوونکو ژوندانه ته چندان پاملرنه نه ده شوې تل د چاروا کو له خوا په ژمنو باندې دلاسه شوی او دخپل تعهد او مسلك دغوښتنې په اساس یې ددندې اجراء کولو ته غاړه ایښې او د ژمنو دعملی کیدو په انتظار کې پاتې شوې دی.

کله دمعاشونو دزیاتوالی په ژمنه کې او کله ورته دکورونو لپاره دنمرو دورکولو دژمنو دسرته رسیدو په هیله کې پاتی شوی دی. خو اوس د ۳۵۰ افغانیو دمعاش په زیاتوالی او د مالیې دوزیر په وینا چې کافی بودجه په واك کې نه لري په دې باوری شول چې دښوونکو دمعاشونو زیاتوالی دهوسی په ښکر کی ښکاري. دمعاشونو نه زیاتوالی او د کوپونی مغازو له لارې دموادو دورکړې نشتوالی او اقتصاد ی ستونزو ښوونکی دی ته هڅولی دی چې دښوونکو له دندو څخه ګوښه او په شخصی کاروبار لاس پورې کړي.

دښوونکو له خوا دمعاشونو دکموالی او د اندك معاش دزیاتوالی په باره کې مظاهرې او په ځینو ښوونځیو کې دمظاهرو او اعتصاب لپاره دښوونکو ابتدایی غونډې او زړه نا زړه پریکړو سره درسي بهیر په دې ورځو کې سست شوی دی او دښوونکو له خوا زیاته د انتقاد ګوته دښوونکو صنفی اتحادیی ته نیول شوی چې دښوونکو دستونزو په لیرې کولو کې یې تر اوسه دحق العضویت له ټولولو پرته بل څه کار نه دی کړی.

که چیرې دولت دښوونکو دمعاشونو دژوند د ښه والی او کوپونی موادو د ورکړې په برخه کې سملاسی اجراات ونه کړی ویلای شو چې دښوونځیو په دننه کې به کیفی درسی سطحه له پاملرنې وغورځیږي او د راتلونکی بی نظمی دحل لارې چارې رامنځته کول به له ستونزو ډك کار وي.

په ننګرهار کې د کاندیدانو احتجاج

د ننګرهار ولایت نږدې ۳۰۰ کاندیدانو چې درایو بیا شمېرنه غواړي دخپلو غوښتنو دنه منلو په صورت کې دلویو لارو دبندولو ګواښ کړی دی.

دغو کاندیدانو د تلې له ۱۲ مې راهیسې په احتجاج لاس پورې کړی او په جلال آباد کې درایو دشمېرنې ددفتر مخې ته یې پاڅه اړولي دي.

دوی یو ځلوېښت کسېزه شورا هم جوړه کړې له مرکزي دولت او نړیوالو ځخه د خپلو حقوقو او درایو د بیا شمېرلوغوښتنه کوي. دوی د تلې په ۱۸مه یو پرېکړه لیک هم صادر کړی و چې پکې له ۲۰۰ ځخه زیاتو دولسي جرګې او ولایتي شورا کاندیدانو لاسلیکونه کړي او ددوی په وینا د ۴۳۰ کاندیدانو ملاتړ هم ورسره دی. د احتجاج په اتمه ورځ (دتلې ۲۳مه) ددوی دځلویښت کسیزې شورا مشر ملک نظیر پژواک خبري آژانس ته وویل چې چاروا کو یې پوښتنه ونه کړه او غوښتنې یې ونه منلې دوی به ټولې لویې لارې دترافیکو پر مخ وتړي. ۴مخ

په لوګر کې د توغندیو برید

د لوګر ولایت په مرکز پل علم کې دیوناما له دفتر سره نږدې دوه توغندي لګېدلي ، خو کوم ځاني او مالي زیان یې نه دی اړولی. د لوګر ولایت د امنیت آمر پاسوال صالح محمد مسعود دتلې په ۲۳مه پژواک خبري آژانس ته وویل چې توغندي د ښار سویل ختیځ لوري ځخه توغول شوي او دیوناما ددفتر په ۲۰ متری کې لګېدلي دي. ده زیاته کړه چې دیوناما په دفتر کې دټولټاکنو ګډ دفتر هم میشت دی چې د توغندیو لاملې دواړو دفترونو ته کوم زیان نه دی اوښتی خو د سیمې اوسیدونکي وایي چې دوه ورځې وړاندې ددغه ولایت دټاکنو پایلې اعلان شوي او کېدای شي کوم ناکام کاندید دغه کار ترسره کړی وي

دیو کاندید په پلوی په هلمند کې لاریون

دکاندیدانو له لست څخه د یوتن ویستل شوي کاندید په پلوی دهلمند ولایت په لښکرګاه ښارکې په سلګونو تنو لاریون وکړ. خلکو غوښتنه کوله چې حاجي امیر محمد اخوندزاده . له دې سره سره چې دکاندیدانو له لست څخه یې مخکې نوم ویستل شوی او په دغه ولایت کې یې تر ټولو زیاتې رایې ګټلې ، باید په پارلمان کې ورته ځای ورکړل شي. ص۴

منزل رئیس بانك راسرقت کړند

منزل رئیس بانک ولایت پکتیکا ، شب گذشته در شهر شرنه، توسط افراد مسلح نامعلوم به سرقت برده شد. نور محمد ، یک تن از باشنده گان منطقه به تاریخ ۲۳ میزان به آژانس خبری پژواک گفت که زمانیکه سارقین از منزل خارج شدند ، آنها در اثر فریاد اعضای منزل خبر شدند. ص۴

په کنړ کې په ائتلافی ځواکونو برید

د کنړ ولایت د مانوګی ولسوالی اړوند د کمپری په سیمه کې تیره شپه د ائتلافی ځواکونو د ګزمی په موټرو د مخالفو وسله والو لخوا برید وشو دکنړ ولایت د امنیی قوماندان مل پاسوال عبدالغفار د برید په هکله د ازادی رادیو ته وویل: د مانوګی د ولسوالی د امنیت د قوماندانی د راپور په اساس په ائتلافی قواوو باندی د کمپری په ساحه کې برید شوی دی دا چی دی برید څومره وخت دوام کړی دی تلفات لری او که نه پدی مورد کې دقیق معلومات نلرم هغه وویل چې د ائتلافی ځواکونو پر عملیاتو او پر هغوی د کیدونکی برید په هکله څکه معلومات نلرل چې ائتلافی ځواکونه د تګ او راتګ پر مهال دوی نه خبروی او اکثراً داسی واقع کیږي چې دوی مستقلانه تګ راتګ او عملیات کوی او زمونږ شکایت همیشه دادی دوی باید ص ۴

دخان مرګی بریدونو د مخنیوی په موخه پلانونه

د افغانستان د دفاع وزارت اعلان کړی چې د تروریستان د ځان مرګی بریدونو ځخه د مخنیوی په موخه نوی پلانونه په پام کې لری دا تصمیم وروسته له هغه نیول کیږي چې په کابل او ځینی جنوبی ولایتونو کې پدی وروستیو ورځو کې ګڼ تروریستی بریدونه تر سره شول د افغانستان د دفاع وزارت ویاند جنرال ظاهر عظیمی وویل چې دغه پلان د هیواد ټولو امنیتی ادارو سره تر سلا مشورو وروسته نیول شوی دی او تمه کیږي چې له دی سره به په افغانستان کې ص ۴

دنباله از صفحه گذشته

بیان حقایق از جنگ باشوروی در افغانستان از زبان معاون استخبارات پاکستان

سید احمد شاه دولتی

دگروال یوسف معاون آی ۰اس ۰آی نوشته است :

که نامش ذ کر نشده وجنرال ودودقوماندان قوای مرکزکه دردفترکارش به ضرب گلوله رئیس پوهنتون کابل کشته شدازجملهٔ قربانیان حملات ما انـد ، مابارهاکوشیده ایم تادوکتور نجیب را هم درزمان ریاست خاد وهم دروقتیکه رئیس جمهور بود ازبین ببریم برای قتل اویک موتربم گذاری شده بابمب ساعت دار دربین موترهای پارک سفارت هند توقف داده شد که قراربود داکتر نجیب به سفارت هند بیاید اماه در ساعت معین نیامد، موترقبل ازآ مدن نجیب منفجرشد ۰۰۰۰۰

دگروال یوسف درحقیقت به ترورریس پوهنتون و جنرال ودوداعتراف کرده است امابنابه علتی که شاید بخودش معلوم خواهد بود نام کسی راکه بالای جنرال ودود فیرنموده ویارئیس پوهنتون رابه قتل رسانیده افشانکرده است ، این دوشخصیت ملکی ونظامی که دردفتر کار وحین اجرای وظیفه ترورگردیده ا ند ،مقصراصلی ومجرم حقیقی درموردقتل این دو، دگروال یوسف وهمدستان اومیباشد ۰ ا گرورثه های مشارٌ الیه ها ، مقامات دلسوز ویا پژوهشگران درعرصه شناخت تروریستان وقاتلان خواستاربه محاکمه کشانیدن تروریستان قاتل باشند دگروال یوسف درصدرافرا د قابل محاکمه قرارمیگیرد ۰ اگردگروال یوسف معاون آی ۰اس ۰آی پاکستان به میز محاکمه کشانیده شود بسیاری ازسرنخهای جرم وجنایت دوران جنگ باشوروی بدست خواهد آمد زیراکه دگروال یوسف با مراجعه به پلانهای سالها ی جنگ جهاد درمورد قتل وترورردرا فغانستان لزوماً درباره هرکس وهرچه معلومات خواهد دا د چراکه ممکن ا ست در دفاتراندراج زمان کارکرده گی او با ذ کر نام وهویت اشخاص ذیدخل درقضایای افغانستان بخصوص آنهائیکه تحت فرمان آی ۰اس ۰آی بااخذ معاش ، سلاح ومهمات ، جنگ جهاد را پیش می بردند درآ رشیف نظامی ویا درآرشیف ملی پاکستان موجود خواهد بود ۰

همچنان لازم به یاد آ وری است که وقتی درسال ۲۰۰۴ میلادی بقصد قتل جنرال مشرف رئیس جمهورپاکستان توطئه صورت گرفت ، توطئه گران به اتهام تلاش برای قتل جنرال مشرف به محاکمه کشانیده شده مجازات گردید ۰ توطئه گران به اتهام تلاش برای قتل داکتر نجیب رئیس جمهورافغانستان نیز بائیست مجازات میگردید که تاحال نسبت ناروشن بودن عاملین توطئه علیه داکترنجیب این موضوع مسکوت گذاشته شده بود اکنون نظربه اعتراف خودش میتوان دگروال یوسف وهمدستان اورا بحیث مجرمی که به جرم خود معترف است به میز محاکمه کشانیداو وشرکایشراتوطئه گران اصلی دراین قضیه نامید ۰دگروال یوسف اگرزیرتحقیقات قرارداده شود شرح خواهد داد که حمله با موتر بمب گذاری شده که یک عمل تروریستی است چرا آنرا انجام داده ویا به انجام دادن آن شخص دیگری را توظیف نموده است ؟ ؟

همچنان اوافشاخواهدساخت که داکترنجیب درسال ۱۹۹۶ پس ازورودطالبان به کابل چرا ، چگونه ،به امرکی وتوسط چه کسی ازحریم نمایندهٔ ملل متحد بیرون کشیده شده به قتل رسید ۰۰۰۰

دگروال یوسف معاون آی ۰اس ۰آی میگوید :

برای تخریب کابل ده هاهزار راکت درزمان جنگ بر کابل وزوا یای آن فیر شده است ، من هیچگاه ادعانمی کنم که افراد بیگناه وهوا خواهان مجاهدین دراثرحملات راکتی مابه قتل نرسیده اند ۰۰۰جنگ های امروزرانمیتوان بدون تلفات افراد بیگناه براه انداخت ۰۰۰۰

ازمدتی است مخالفین سیاسی مجاهدین مسؤلیت تخریبات کابل وکشته شده گان ناشی ازاصابت راکت هارا تنهابه دوش مجاهدین می اندازند درحالیکه دگروال یوسف نه تنهابحیث آ مر دستوردهنده مسؤلیت تخریب شهر کابل رابرعهده گرفته است بلکه به کشته شدن افراد بیگناه درشهر کابل نیز به وضاحت اعتراف نموده است به نظر من اگرارزیابی دقیق صورت بگیرد درموردتخریب وکشتار درکابل ، دگروال یوسف وهمکاران شریک درپلان تخریب وبه آتش کشیدن کابل مسؤل درجه اول خواهدشد وحتی گلب الدین حکمتیارویاران او که بیشترین راکت رابه شهر کابل وزوایای آن فیرنموده در قتل وکشتاروتخریب کابل نقش اساسی دارند ، مسؤل درجه دوم محسوب گردیده سایرین به درجات پائینتر قرار خواهند گرفت ۰ داکترنجیب رئیس جمهوروقت افغانستان بعدازخروج قوای اتحادشوروی از افغانستان که به دفاع مستقلانه مصروف بود درشورای ملی درکابل ضمن سخنرانی درمورد ناامنی درکنر وعملکرد گلب الدین حکمتیارگفت درکنر ۱۵۰نفررا سربریده اند یک هزارنفرکشته شده است این جنگ بین خود افراطیون صورت گرفته است ۰گلب الدین حکمتیار کنررا بعدازکشت وکشتار بدست آورد.

ص ۱۹۱ و۱۹۲دشنه های سرخ تالیف فقیر محمد ودان اگرسازمان های حقوق بشر ونهادهای مدنی ازاصل قضایای تخریب شهر کابل وکشتارمردمان بیگناه آن درجریان جنگ جهادوبعدازآن خواسته باشندآ گاهی لازم بدست ا ورند درصورت به تعویق افتادن محاکمهٔ دگروال یوسف باوی رابطه برقرارنموده پلانهای نظامی جنگ باشوروی درافغانستان را که ممکن است درآرشیف ملی ویانظامی پاکستان نگهداری شده باشد ملاحظه نمایندوازنظر بگذرانندهمچنان تالیفات اورا بشمول فاجعه قرن ما مطالعه نمایند ۰

معاون استخبارات پاکستان نوشته است :

من درلیست خودبیش ازهفتاد اهداف بالقوه داشتم که مورداصابت حملا ت راکت قرار میگرفت ۰ درراس قصردارالامان تپه تاج بیک میدان هوائی کابل باملحقات آن ـ بالاحصار کابل ـ قصبه گسترده و اپارتمانهای مکروریان ها که شوروی ها واعضای ارشد حزب کمونیست افغانستان درآن سکونت داشتند ـ همین قسم قرارگاه خاد ـ وزارت خانه ها ـ قصرارگ جمهوری ـ رادیوتلویزیون کابل ـ سرکهای ترانسپورتی ـ استیشن های برق ـ ذ خایر نفت وموا دسوخت اهداف مرکزی مابود ۰ نزد مااین مسئله مطرح بود که کابل را باید چگونه ذریعه بم ویاراکت مورد ا صابت قرار دا د ومنفجر ساخت ۰ما دراپریل سال ۱۹۸۴ پنجصد دستگاه بی ام ار ۱۰۷۱ ملی متری راکه دارای ساحه انداخت ان ده کیلومتر بود بدست آوردیم این دستگاه مارا قادر ساخت به حملات راکتی خویش تداوم بخشیم که تقریباً هفتادوپنج فیصدآ ن بالای کابل فیر گردید.

درسال ۱۹۸۵ یک هزار پایه ازا ین راکتها بدست ما رسید.

که درکوبیدن کابل توانائی وقابلیت بیشتری بماداد ۰

این اعترافات گویای معاون استخبارات پاکستان نشان میدهد که درتخریب مناطق مسکونی کابل وحومه آ ن نه تنهادگروال یوسف مقصربوده است بلکه مقامات بالاترازاونیز دورازتقصیرنبوده اند ۰ سازمان های فعال درعرصه مدنی وحقوق بشر وآ گاهان امور ازقوانین بین ا لمللی میفهمند که میدان هوائی ملکی ـ وزارت خانه ها ـ سرکها وجاده های عمومی ترانسپورتی ـ استیشن های برق ـ وسایل ارتباط جمعی مثل رادیو تلویزیون ومطبوعات ـ ذخایر نفت وگاز کارهمند ساکنین شهرها وخانه های مسکونی باصرف نظر ازعقاید سیاسی ومذهبی مسکن گزین ها ، درجریان جنگ درجمله اهداف نظامی شامل ساخته نمیشوند و زیرحملات نظامی قرارنمیگیرند ، باید این حقیقت رانیز گفت که مکروریان های شهر کابل مشتمل بر ۹۵۰۰ـ اپارتمان درساختمان های بلاک های متعد د چهار منزله ـ پنج منزله وشش منزله میباشد که لااقل یکصدوپنجاه هزار نفردرآن زنده گی مینمودند دگروال یوسف بایدنه تنهابخاطر هدف قراردادن مکروریان ها موردمؤاخذه قرارگیرد بلکه نسبت دروغ گوئی اش نیزمورد باز پرس قرارگیرد زیرابه همه معلوم است که حدود ۱۵۰هزارساکنین مکروریان ها همه شوروی هاومامورین ارشد حزب دموکراتیک نبودند بلکه هزار هانفرغیرحزبی نیز درآن زنده گی میکردند هدف قرار دادن مکروریان ها به بهانه های توجیه ناپذیر هنطوریکه معاون استخبارات آی ۰اس ۰آی پاکستان اعترا ف نموده بمعنی حملات نظامی بالای خانه های ۱۵۰هزارنفوس مکروریان ها میباشد که این خودازلحاظ حقوق بشری ومدنی قابل مکث جدی است وجنایت محسوب میگردد ۰ دگروال یوسف معاون استخبارات پاکستان ازمقابله بانظامیان شوروی ها کمتر سخن گفته یاهیچ نگفته امابیشترین مطلب آن متمرکزبه تخریب شهرکابل وبه محاصره اقتصادی کشیدن آن ، تخریب پایه های انتقال برق به شهرکابل، هدف قراردادن مکاتب ومدارس، تخریب تاسیسات تولیدی عام المنفعه ، ادا رات دولتی وزارت خانه ها ، تخریب بندآب برا ی ایجاد قحطی ، تخریب جاده های عمومی مورداستفاده عامه بخاطر به محاصره کشیدن شهریان کابل ، قتل وکشتار اعضای حزب دموکراتیک افغانستان یاحزب وطن وامثال آن بوده است واین بیانگر خصومت دیرینه مقامات پاکستان وازجمله رئیس ومعاون شبکه جاسوسی ونظامیان آنکشوردرمقابل کابل ومردم آن بصورت خاص وخصومت دربرابر افغانستان و ساکنین آن بصورت عام میباشد که منشه آن منازعات دیرینه مردم وحکومت های افغانستان درموردخط دیورندوتشکیل دولت مستقل پشتونستان وبلوچستان است که نظامیان پاکستان خواسته ا ند با استفاده ازپاشنه آ شیل حکومت افغانستان درآن زمان ازشهریان کابل که مرکزتجمع روشنفکران وتحول طلبان ومردمان باشهامت افغانستان که زیر باران مرمی وراکت امورزنده گی خویش را پیش می بردند وزیر فرمان آی ۰اس ۰آی ونظامیان پاکستان قرارنگرفته بودندا نتقام بگیرند.

جهان دار مکافات است
دارد طبع آ ئینه
به هر رنگی که باشی
صورت خود همچنان بینی
والسلام

۲۰۰۵/۸/۱۹ میلادی

د معاشونو د زیاتوالی په ځای د کوپونی او کوپراتیفنکی مغازو د پیاورنیا ارتیا

ځپلنه

په هیواد کې د بې کاری زیاتوالی د خپل سری نرخونو اوچتوالی او نه کنترول او په څنګ کې یې د کوپونی موادو نشتوالی په هیواد کې زیاتی اقتصادی ستونزی رامنځته کړی دی چې د دولت ټول کارکوونکی ورسره مخامخ شوی دی. د دولتی کارکوونکو له زیاتو شکایتونو سره سره دولت د دولتی کارکوونکو ژوند ته څه پاملرنه نه ده کړې.

د مالیی وزارت د دولتی کارکوونکو د لږو معاشونو ورکول د د بودجی کموالی بولی خو په مقابل کې یې دولتی مامورین د اړتیاوو د پوره کولو په خاطر د معاش د زیاتوالی غوښتنه کوي دا او داسی نورو ستونزو دواړه خواوی دحل لاری چاری نشی سنجولی.

ولسمشر حامد کرزی د معاشونو د زیاتوالی د زیاتوالی لپاره څو څو ځلی ژمنی وکړی خو تر اوسه پوری یې دا ژمنه عملی کړی نه ده.

دمعاشونو کم والی د دولت په ټولو ادارو کې د بډو د اخیستلو او اداری فساد د زیاتوالی له پاره زمینه برابره کړی ده چې لوړ پوړی دولتی چاروا کی د بډو په اخیستلو ښه خبر دی د بډو اخیستونکی که څه هم دغه کار ناروا او د قانون خلاف بولی خو د کمو معاشونو او دغه راز د بی کچه قیمتی او د بی کوری د ستونزو د شته والی او زیاتوالی له املـه خانونه د بډو په اخیستلو مجبور بولي.

د معاشونو د زیاتوالی په برخه کې د هری ژمنی په کیدلو سره نرخونه په خپل سرلوړیږي او بیا د کنترول او شکته کولو لپاره څه اقدام نشی کیدای او ډیر لاپدی اند دی چې په ازاد بازار کې د نرخونو کنترول نشی کیدای.

خو که چیری په بازارونو کې د عرضی په ځای تقاضا کمه شی له کنترول او څارنی پرته د نرخونو په را کم والی کې مهم رول لري او دا کار هغه وخت کیدای شی چې دولت د دولتی کارکوونکو لپاره د کوپونی مغازو او کوپراتیفونو د جوړولو په برخه کې اقدام وکړی او د پرون په څیر د مغازو او کوپرایفونو زیاتوالی یوازی تش په نامه نه بلکی عملاً د جنسونو اوخوراکی موادو د ورکړی په برخه کې اقدام وشی په هیواد کې چې همدا اوس کوپونی مغازی جوړیږي او یا خو ځینی کوپراتیفونه هم تر سترګو کیږي. یو خو دا چې له جنسونو څخه تشی دی او بله دا چې په هغو کې یا داسی جنسونه وی چې تر بازار قیمته وی او یا دا چې کیفیت یی تر بازار کښته وی اوس چې د دولت له خوا د ۳۵۰ افغانیو زیاتوالی اعلان شوی دی دولت د معاشونو په ورکړه کې دا خپله یوه کامیابی او د ژمنی سرته رسول بولی خو دکارکوونکو له خوا یې هر کلی نه دی شوی بلکی لا یې د خلکو انتقادونه زیات کړی دی.

همدا اوس چې مامورینو له ۳۵۰ افغانی تر لاسه کړی نه دی د دکاندارانو له خوا نرخونه په لوړیدو شول او څرګنده ده چې دولت یې کنترول نشی کولای نو د معاش په دغه کم او ناچیزه زیاتوالی سره د مامورینو درد نشی دوا کیدلی.

او کال په کال به دغه ستونزی او انتقادونه زیاتیږي. دولت که چیری د تل لپاره د مامورینو او عامو خلکو په ژوند کې سوکالی راوستل غواړی باید د معاشونو د زیاتوالی په ځای د دولتی کوپراتیفو او دولتی کوپونی مغازو له لاری د جنسونو او خوراکی موادو د ورکولو زمینه برابره کړی کله چې د دولتی کارکوونکو لاس له بازار څخه لنډ شی پخپله په بازار کې

عرضه زیاتیږي او د تقاضا د کم والی په صورت کې نرخونه پخپله رالویږي او بیا په هغه وخت کې دمعاشونو د زیاتوالی له پاره څه اړتیا نه لیدل کیږي. که چیری دولت د دولتی مغازو او کوپراتیفونو له لاری د ورکړی په برخه کې د بودجی کم والی ښئ لاړمه ده چې ددغی نیمګړتیا د پوره کولو لپاره د دولتی عوایدو په زیاتوالی او شفافیت باندی ټینګار وکړی د کلو کلو د ځمکو مالیی که څه هم وچکالی څپلی دی راټولولو او نورو عوایدو د راخپلولو خوا پیاوړی کړی او بهرنی مرستی باید د دولت د اړوندو وزارتونو په چوکاټ کې وغواړی او دریم دا چې دولت باید د دالری او افغانی معاشونو ترمنځ نا انډولی پای ته ورسوی ټول معاشونه په یوه عادلانه چوکاټ کې رامنځته کړی.

رانلونکی د ځوانانو ده

متصدی: ناصر بشر

نمایش بیش از ۴۰ هزار نسخه کتاب در کابل

بیش از ۴۰ هزار نسخه کتاب شامل موضوعات مختلف به هدف ترویج فرهنگ مطالعه در بین جوانان در بنیاد فرهنگ و جامعه مدني شهر کابل به نمایش گذاشته شد.

به گفته نور احمد فهیم معاون بخش تحقیق و پژوهش بنیاد فرهنگ و جامعه مدنی برای برگزاری این نمایشگاه که به مدت یک هفته ادام داشت در حدود ۲۰ هزار دالر از جانب رایزني فرهنگي ایران و بنیاد فرهنگ و جامعه مدني به مصرف رسیده است.

سید مخدوم رهین وزیر اطلاعات فرهنگ و توریزم در مراسم افتتاح این نمایشگاه ایجاد همچو نمایشگاه ها را براي تشویق جوانان به مطالعه مفید دانست.

وي افزود که در ۳۰ سال پیش کابل تنها ۴۰۰ هزار جمعیت داشت و کتابخانه هاي عامه و پوهنتون کابل نیاز مردم را به کتاب مرفوع مي ساخت و لي این دو کتابخانه نمي تواند پاسخگوي بیش از ۳ میلیون نفوس کابل در حال حاضر باشد.



بازدید کنندگان از محتواي کتاب ها که در برگیرندهٔ موضوعات ادبي حقوقي علمي فرهنگي و غیره مي باشند راضي به نظر مي رسیدند اما از بالا بودن قیمت فروش کتب شکایت داشتند.

شیرشاه محصل پوهنحي ادبیات پوهنتون کابل و یک تن از بازدید کننده گان گفت که برگزاری این نمایشگاه ها به نوبه خود مفید مي باشد اما قیمت ها بلند است و محصلین نمي توانند از این کتاب ها استفاده نمایند.

قیمت کتابهای موجود در نمایشگاه از ۱۰ افغاني شروع و به بیش از ۲۵۰۰ افغانی نیز می رسید.

اما محمد کاظم کهدو ی مسوول بخش فرهنگی سفارت جمهوری اسلامی ایران در کابل گفت که کتاب ها به قیمتي که در ایران خریداری گردیده در اختیار علاقه مندان قرار داده می شود.

لاسي صنعت او زده کړه په روزنتونونو کې

په رښتیا چې زموږ په هیواد کې دیتیمانو او غریبانو کورنیو شمیر زیات دی او داسې کورنۍ چې له یوې خوا دورځنیو لګښتونو دپوره کولو لپاره حیرانی دی له بلې خوا د خپلو بچیانو دروزلو لپاره زیاتې اقتصادي ستونزې لرې دهیواد په مرکز او ولایتونو کې دداسې بچیانو دروزلو لپاره دکار او ټولنیزو چارو دریاستونو په چوکاټ کې روزنتونونه جوړ شوی دی خو نه ټول په شوونځیو دشمول چانس ورکوي او ځینو ته مسلکي زده کړې وریادوی زموږ په دې لیکنه کې دننګرهار ولایت دکار او ټولنیزو چارو دریاست په چوکاټ کې دروزنتونونو په هکله دهغو روزنتونونو له لوی مدیر سید عبدالخلیل سره مرکه لرو.



نوموړی دیوې پوښتنې په ځواب کې وویل:

په ننګرهار کې ټول لس روزنتونونه دی چې د زده کوونکو شمیر یې ۲۵۵۰ تنو ته رسیږي اوپه دوی کې ۱۶۰ انجونې دی شپږ یې په جلال آباد کې او څلور یې په ولسوالیو کې دی لکه د خوږ کور، امام البخاری شهید مولوی حبیب الرحمن، الندوه، سرپرستی اطفال یتیم او شپږم دجلال آباد مرکزی روزنتون.

دغه راز یو درواتو په ولسوالی کې دګل پاچا الفت په نامه امام غزلی په کوټ ولسوالی کې حکیم سنایی په غنی خیلو او خواجه عبدالله انصاری روزنتون دمومند درې په ولسوالی کې دی زموږ دروز نتونونو لګښت دبیلابیلو خیریه موسسو له خوا ورکول کیږي خو دا لګښتونه کافی نه دی او موږ یې له ستونزو سره مخ کړی یو دمراجعینو شمیر زیات دی خو موږ دلګښتونو دکم والی له امله له داخلیدو څخه ډډه کوو که چیرې یو دوره فارغه شي نور شامل کړو.

سید عبدالخلیل پاچا وویل هغه ماشومان چې ۷ کلن وی هغه په اول ټولګی کې شاملوو او هغه چې عمر یې تر دې لوړ او تر ۱۴ کلونو پورې وی هغوی ته حرفوی زده کړې ورښیو.

نوموړی دبریښنا د نشتوالی ستونزه بیان کړه او دیوې خپرونې د رامنځته کیدو په برخه کې یې داړوند وزارت له خوا دمنظوری په هیله دبهرنیو مرستو دزیاتوالی غوښتنه وکړه هغه وویل: که چیرې بهرنی خیریه مرستې زیاتې شي موږ به زیات یتیمان را خپل کړو او په سر به یې د مهربانۍ لاس تیر کړو هغه دا هم وویل چې زموږ دامام البخاری په لیسه کې چې څو دورې فارغان یې هم ورکړی دی دښوونې روزنې دوزارت درسې پروګرام او قوانین پلی کوو او زموږ فارغین د نورو لیسو په څیر دپوهنتون په ازموینه کې د شمول حق تر لاسه کوي.

دښوونځیی په انګړ کې پداسې حال کې چې نور زده کوونکی رخصت دی یو څو کسه اداری په دورازه کې ګورم له یوه زده کوونکی څخه چې خپل ځان شاهپور او دنهم ټولګی زده کوونکی راپیژنی وایی دوه کاله مې شوی ازموینه مې ورکړی ده اوس په نهم کې یم موږ دلته څه مشکل نه لري. خو دراتلونکی پارلمان ددندو په هکله تري پوښتم په خندا وایی:

ښاروال به ټاکی که نه. باید خلکو ته خدمت وکړی موږ ته به حتماً خدمت کوي.

غلام غوث چې دشپږ ټولګی زده کوونکی دی وایی شاګردانو جوړوم اقتصاد کمزوری دی که راسره مرسته وشي موږ به زیات دلاسی صنعت زیات شیان جوړ کړو او بازار ته به یې وړاندې کړو په نوموړی ځانګه کې په مهره دوزی ښکلی شوی جیکونه، دستکولونه، ګیلاسونه او ګدانونو ترسرترګو کیږي.

په انجونو کې شازیه او عاقله له خپل کار او زده کړې څخه خوشاله دی هغوی وای چې موږ خپله برشی کولای شو او جامې

یوې خونې ته ورځو ځینې انجونې خپل مخ پټوی او ځینې یې لوڅ مخ دی دهغو استاذه هم ناسته وه زیاته زړوره او پوهه ښکاری هغه شریفه نومیږی په جرئت سره وایی ما په دې څانګه ۱۶ کاله کار کړی چې چرمه دوزی او مهره دوزی ورته ښیم زموږ ستونزې دادی چې اومه مواد نه لرو زه یې له خلکو څخه راوړم دلته یې په ګنډلی شو خو نجیب الله چې په ګلدوزی کې استاذ شوې دی وایی: موږ ته باید له فراغت څخه وروسته سامان را کړل شي او دولت ته لازمه ده چې دلاسی صنعت لپاره زیاته پاملرنه واړوی ان چې کولای شي دهیواد دولایاتو په سطحه او په بهر کې ورته بازار پیدا کړی خو موږ دلته نه او مه مواد لرو اونه خو بازار و و رته پیدا کولای شو.

زموږ ملی موسیقی د هیرېدو په لوري روانه ده

هره ټولنه ځانته خپل فرهنګ او کلتور لري او همدغه فرهنګي خانګړتیاوې دی چې یوه ټولنه له بلې څخه جلا کوي. ټولنپیژندونکی تر تاریخ زیات دیوې ټولنې په فرهنګي او فولکلوري شتمنیو باندې تکیه کوی. دیوې ټولنې فرهنګی شتمنی که څه هم دوخت په اوږدو کې بدلون مومی او له نورو څخه متاثره کیږي خو بهرنی اغیزې سره سره د ټولنو اوسیدونکی زیار باسی چې خپل فرهنګ ژوندی وساتی ملی موسیقی زموږ دهیواد د فرهنګ او کلتوري ځانګړتیاوو څخه دجز په توګه باید موږ ورته یوه همیشنۍ پاملرنه وکړو او له مبتذل والی او له بهرنی اغیزې څخه یې پاکه وساتو خو داسې لیدل کیږي چې زموږ په موسیقی بهرنی اغیزه را زیاته شوی اوس اوس خوانان دخپلې ملی موسیقی د اوریدلو اویا غږولو په ځای د هنرې او لوبدیځی موسیقی سره زیات مینه لري په رادیو ګانو کې اوری په تلویزیونونو کې یې وینی او دپروګرامونو مسوولین هم دځوانانو دمیني او ذوق په پام کې نیولو زیاته تکیه په بهرنی موسیقی او سندرو کوي.

په ننګرهار کې دملی موسیقی یو تکړه پلوی سندر غاړی ابراهیم وایی:

زموږ ملی موسیقی زیاته خوږه او خندوره ده خو اوس موږ په ودونو او شادیو کې وینو چې هیوادوال په تیره خوانان دهندی سندرو فرمایشونه ورکوي او موږ دهغو له ویلو څخه انکار کوو. په دې برخه کې باید خوانان پوه شي چې دپردی موسیقی پر ځای خپلې موسیقی سره مینه ولري.

که دا حالت هم داسې دوام پیدا کړی خپله ملی موسیقی به را څخه هیره او میدان به یې سوړ شي.

دنامتو سندر غاړی منور زوی شاه ځوان هم یو وخت په یوه مرکه دهندی او لویدیزې موسیقی له مینه والو څخه سرټکولی و هغه وایی چې زموږ دخپلې موسیقی په برخه کې له دوو ستونزو سره مخ یو یو دا چې ځوانان یې را څخه غواړی او بله دا چې زموږ ځینې هنر مندان دکمزورو شعرونو په ویلو سره خپل وخت تیروی او اوریدونکی او لیدونکی خو شاله وی خو زموږ شاعران باید هنرمندانو ته ښه او په زړه پورې شعرونه ورکړي.

سندرغاړی ابراهیم وایی چې په اوس وخت کې زموږ هغه ځوانان چې غواړی موسیقی زده کړی او یا سندرې ووایی باید زیاته پاملرنه دخپلې ملی موسیقی خواته واړوی که اوسنی حالت داسې روان وی اخر به زموږ خپله ملی موسیقی په ځای پاتې شي او غربی موسیقی به له رادیو ګانو او تلویزیونونو څخه خپریږي او څوک به وربانډې نه پوهیږي.

پخوا په مرکز او ولایاتو کې زموږ د ملی موسیقی له الاتو څخه کار اخیستل کیده خو اوس ملی موسیقي ورو ورو دمرکز په سیمو کې او په تیره بیا د ښار په هوټلونو کې خپله لمنه ټوله کړې ده او یوازې په کلیو کې یې نښې نښانې پاتې دی. اوس یوازې په خوانانو ده چې دهیواد رادیو ګانو او تلویزیونونو ته دملی موسیقی په برخه کې فرمایشونه واستوی خو د خپرونو اداري هم له هندی او لویدیزو سندرو څخه کموالی رامنځته کړی او دملی موسیقی خواته پاملرنه وشي.

منزل رئیس بانک ...

وی افزود: «من خودم سارقین مسلح را دیدم که یونیفورم پولیس را بر تن داشتند و در حال فرار بودند.»

حاجی عید محمد، رئیس بانک ولایت پکتیکا به آژانس خبری پژواک گفت که حوالی ساعت هفت شب، چند تن که لباس پولیس بر تن داشتند به بهانه تلاشی به منزل آنها آمده بودند.

وی افزود: «به شمول من تمام اعضای فامیلم را در یک اتاق زندانی نمودند و بعد از اخذ معلومات از پسر ۱۲ ساله ام در مورد منزلم، وی را نیز بسته کردند.»

به گفته وی، یک تیلیفون دیجیتل یک ستلایت ثریا، یک اندازه پول نقد و لوازم خانه را با خود برده اند، اما موصوف در مورد اندازه پول چیزی نگفت اما یک تن باشندهٔ منطقه که از گرفتن نامش خودداری مینمود به آژانس خبری پژواک گفت که امکان دارد تا ده لک کلدار را از نزد وی برده باشند.

محمد رحیم علی خیل قومندان امنیه ولایت پکتیکا به آژانس خبری پژواک گفت که بعد از مطلع شدن از واقعه عاجل، افراد امنیتی را به منطقه ارسال نموده است.

وی افزود که پولیس سارقین را تعقیب کردند، اما آنها به طرف ولایت غزنی فرار نمودند. قرار معلومات وی، سارقین را شناسایی نموده و بزودی آنها را دستگیر خواهند کرد.

از هفته گذشته بدینسو این سومین واقعه در منطقه مذکور میباشد که سارقین مسلح، منازل مردم را به سرقت میبرند.

ولسمشر حامد کرزی...

د خوست ولایت امنیه قوماندان جنرال محمد ایوب هاشم پژواک خبري آژانس ته دتېلېفون له لارې دپښتې په ورځ ویلي و چې چاودنه د تنیو ولسوالۍ د درګۍ سیمې په جامع جومات کې رامنځته شوې او چاوډېدونکي توکي دممبر لاندې ځای پر ځای شوي وو.

که څه هم تر دې مهاله ددغې وژنې مسوولیت چا په غاړه نه دی اخیستی، خو دخوست ولایت دقومونو د پیوستون د شورا رییس غازي نوازتنې دغه پېښه دسیاسي ملحوظاتو له مخې ګڼلې او ویلې یې دي چې هغه (مولوي محمد خان) له هیڅا سره کومه شخصي دښمني نه درلوده.

دا په داسې حال کې ده چې د تلې په ۱۹مه، د پکتیکا ولایت دمرکز شرتې ښار په یو جومات هم دنامعلومو کسانو لخوا د لاسي بمونو په برید کې اوه تنه لمونځ کوونکي تپیان شوي وو.

مردم فراه از وضعیت امنیتی شاکی اند

عده ای از مردم ولایت فراه، وضعیت امنیتی آن ولایت را مختل دانسته و هشدار مبنی بر راه اندازی تظاهرات گسترده در این مورد که سبب نگرانی آنهاشده داده اند، آنها همچنان خواهان رسیده گی هر چه عاجل تر این معضله اجتماعی شده اند.

ملالی جویا یکتن راه یافته گان به ولسی جرگه در ولایت فراه در این مورد میگوید که متاسفانه از چندی بدین سو در ولایت فراه، امنیت به صورت کامل برقرار نمی باشد و عده ای زیادی از کسبه کاران در این ولایت از عدم امنیت شاکی هستند، چنانچه تا به حال چندین مورد سرقت دوکانها را برای وی گزارشی داده اند.

وی افزود: «اگر وضعیت به همین منوال پیش برود درآینده نزدیک، امکان دارد تظاهراتی بر ضد بی امنیتی در این ولایت، صورت گیرد.»

جویا میگوید که اکثراً سرقت های که در ولایت فراه صورت می گیرد، دوکانها میان ولسوالی ها می باشد که گاهی اوقات به زدو خورد هم می انجامد.

اما مسؤولین امنیتی ولایت فراه، هر گونه بی امنیتی در ولایت فراه را رد نموده و مدعی اند که در آن ولایت امنیت به صورت کامل برقرار می باشند. عبدالجبار یکتن از باشنده گان مرکز ولایت فراه در این مورد گفت: «از چندی بدین سو در ولایت فراه سرقت های مسلحانه به راه افتاده است، به حدی که مردم گاهی اوقات خودشان جهت حفظ اموال خود در دوکانهای شان می خوابند.» علاء الدین نورزایی قوماندان امنیه ولایت فراه، ضمن رد این موضوع گفت: «در ولایت فراه امنیت به صورت کامل بر قرار می باشد و ما کسانی را که دست به مختل ساختن امنیت در این ولایت بزنند با آنها برخورد قانونی خواهیم کرد.» وی افزود: «با همکاری دیگر نهادهای امنیتی در این ولایت، ما امنیت کامل را برای مردم در مرکز ولایت فراه و تمام ولسوالیها بر قرار کردیم و خواهیم کرد.» بعضی از این شاکیان مدعی می باشند که هر گاه سارقین مسلح، توسط مردم یا مسؤولین امنیتی دستگیر می شوند به زودترین فرصت، از طرف ارگانهای امنیتی آزاد می شوند که این خود جای نگرانی است.

یکتن دیگر از مسؤولین امنیتی که نخواست نامش فاش شود در این مورد گفت: «در طی دوهفته، چندین حادثه سرقت های مسلحانه در ولایت فراه به وقوع پیوست که در صورت دستگیری، با آنها برخورد قانونی خواهد شد.»

طی ماه جاری در ولایت فراه در حادثات جداگانه سه تن کشته و پنج تن به شدت زخمی گردیدند، همچنان اموال یک موتر مؤسسهٔ آی او ام توسط افراد ناشناس مسلح ربوده شد و کارمندان آن تهدید به مرگ شدند.

تصادم موتر پی، آر تی...

در اثر این انفجار شاهراه بغلان - کندز از مدت سه ساعت بدینسو بر روی ترافیک مسدود گردیده، در هر دو طرف ده ها موتر توقف نموده اند و منتظر باز شدن راه هستند.

آمر کشف گفت که پی آر تی و نیروهای آنها تحقیقات را آغاز نموده ند که معلومات مکمل بعداً ارایه خواهد شد یک تن مسؤول پی آر تی که از گرفتن نامش خودداری مینمود به آژانس خبری پژواک گفت که تحقیقات را آغاز نموده اند و معلومات مکمل در آخر تحقیقات طی اعلامیهٔ نشر خواهند کرد.

طی سه ماه گذشته این چهارمین حمله بر تیم بازسازی ولایتی هالند در این ولایت میباشد.

چند هفته قبل زمانی که وزیر دفاع هالند از این ولایت دیدار مینمود، یک ماین جابجا شده بود که قبل از انفجار کشف و خنثی گردید.

انفجار در تانکر...

وی افزود که بعد از انفجار تانکر آتش گرفت که شعله های آتش دکاکین چهار طرف را نیز خساره مند کرد.

دگر جنرال مصطفی اسحاق زی، یک تن از مسؤولین امنیتی در تورخم، ضمن تائید انفجار به آژانس خبری پژواک گفت که مواد منفجره، آن طرف تورخم داخل خاک پاکستان در تانکر جابجا شده بود. قرار معلومات وی، انفجار تلفات جانی در قبال نداشت، اما تانکر تیل کاملاً حریق گردیده بود.

وی گفت که تحقیقات را آغاز کرده، اما تا کنون کسی را به این اتهام دستگیر ننموده اند.

این در حالیست که روز گذشته در ولایت کندهار، پنج تانکر تیل در اثر یک انفجار در نزدیکی پایگاه نیروهای امریکایی حریق گردیده بود.

فرار از زندان...

زرګی انصاری، یک شاهد عینی که در هنگام وقوع این حادثه در نزدیکی محبس قرار داشت نیز، کشتن یک فراری را تائید میکند.

اما یوسف ستانیزی، سخنگوی وزارت امور داخله به آژانس خبری پژواک گفت که این واقعه در بلخ نه بلکه در ولایت بدخشان رُخ داده است.

وی گفت که شش تن از زندانیان فراری، مجددا دستگیر گردیده و تلاش برای گرفتاری افراد باقیمانده جریان دارد.

د یو کاندید په پلوی...

حاجي امیر محمد اخوندزاده چې د دغه ولایت دوالي شیرمحمد اخوندزاده ورور دی، د تاکنو دګډ دفتر لخوا پرده باندې له شکایتونو وروسته د تاکنو له نهتې څخه څو ورځې وړاندې له یو شمېر نورو کاندیدانو سره یې نوم دکاندیدانو له لست څخه ویستل شوی و، خو دخلکو دناخبرۍ لامله ډیرو خلکو ورته رایه ورکړې ده.

په دغه ولایت کې دټولټاکنو ددفتر دچارواکیو په وینا، حاجي امیر محمد اخوندزاده د ۱۸زرو په شاوخوا کې رایې ګټلې دي، په داسې حال کې چې د ټولټاکنو دانټرنیټي سایټ له مخې په دغه ولایت کې تر دې مهاله په سلو کې ۸۰ رایې شمارل شوي او د داد محمد خان په نوم کاندید د ۹۰۴۲ رایو په ګټلو سره لومړی او دحاجي ولي جان په نوم بل کاندید د ۸۷۲۲ رایو په ګټلو سره دویم دی. د هلمند ولایت د ګڼ شمېر ولسوالیو څخه د ۲۰۰ تنو په شاوخوا کې کاندیدانو، ناظرانو او عامو خلکو دتلې په ۲۳ په لنبکر ګاه ښار کې دکرزي په لویغالي کې سره راټول شوي او دیاد شوي کاندید دکامیاب اعلانولو غوښتنه یې کوله.

دوی دغه لویغالي ته پاخه راغلي او له خانه سره یې خیمې او نور سامانونه راوړي دي او وایي چې که غوښتنې یې ونه منل شي، نو خپل احتجاج ته به دوام ورکوي او تر کابل پورې به په لاریون لاس پورې کوي.

دکاندیدانو له لست څخه ویستل شوی دولسي جرګې کاندید حاجي امیر محمد اخوندزاده د تلې په ۲۳مه، پژواک خبري آژانس ته وویل چې ده له خلکو څخه دده په ملاتړ دلاریون غوښتنه نه ده کړې. ده زیاته کړه چې خلک پخپله راپاڅیدلي او دی یې هم له کوره را ویستی، خپل حقوق غواړي او دولت باید په دې غور وکړي.

حاجي امیر محمد زیاته کړه: «پرما چې کوم تورونه لګېدلي هغه دې پر ما ثابت شي زه محاکمې ته تیار یم.»

ده وویل چې که دقدرت خبره وي چې ورور یې والي دی، نو دده په وینا، چې بیا دولسمشر حامد کرزي دوه ورونه هم ولایتي شورا او ولسي جرګې ته کاندیدان دي، دوی ولې نه دي ویستل شوي؟

د ناد علي ولسوالي دولسي جرګې یو تن کاندید حاجي ذاکر پژواک خبري آژانس ته وویل چې حاجي امیر محمد ته ۵۵ زرو خلکو رایه ورکړې او دومره ډیرې رایې باطل اعلانول ددغه ولایت دخلکو سپکاوی دی.

د ولایتي شورا یو تن کاندید حاجي حسن پژواک خبري آژانس ته وویل چې دخلکو رایو ته دې درناوی وشي.

ده غوښتنه وکړه چې ددې پرځای چې دحاجي امیر محمد رایې باطلې اعلان شي، باید بل کاندید ته ورکړل شي.

په دغه ولایت کې د ټولټاکنو دګډ دفتر ویاند عبدالصمد خوشچیزي داخبره ردوي چې ګوندې حاجي امیرمحمد ۵۵ زره رایې ګټلې دي، ده وویل چې نومورې کاندید د ۱۸زرو په شاوخوا کې رایې ګټلې دي. د خلکو دغوښتنو او لاریون په هکله ده وویل چې اوس نه شي کولی خکه چې وخت تېر شوی دی، خو خپل مرکزي دفتر ته یې خبر ورکړی دی، کېدای شي دوی سره دخبرو لپاره له کابل څخه یو هیئت راشي. دا په داسې حال کې ده چې دننګرهار ولایت څه دپاسه ۲۰۰ کاندیدانو له نهو ورځو راهیسې دټولټاکنو ددفتر مخې ته داحتجاج په توګه پراته دي او درایو دبیا شمېرنې غوښتنه کوي هلمند ولایت ته دولسي جرګې لپاره ۸ څوکۍ او دولایتي شورا لپاره ۱۵ څوکۍ خانګړې شوې دي.

په ننګرهار کې د...

ده زیاته کړه: «دشمېرنې له پیل څخه تر پایه یې دیوناما ډېرکارکوونکي په غلا او درغلې نیولي او له هغو څخه یې اړوندو ادارو ته شکایتونه کړي، خو هیڅ نتیجه یې نه ده ورکړې.» دوی وایي چې د تلې په ۲۳مه دننګرهار والي ګل آغا شیرزي سره یې درایو دشمېرنې په مرکز کې خبرې کړې خو بې له کومې پایلې پای ته ورسېدې.

یو شمېر کاندیدان تور لګوي چې والي ته دورتلو پر مهال بهرنیو امنیتي ساتونکو ددوی بې عزتي او سپکاوی کړی دی د ولسي جرګې یوې کاندیدې عابدې ملکزی پژواک ته وویل «مورې ته تر ټولو خپل عزت مهم دی زمورې دسپین ږیرو، مشرانو، او تور سرو باید درناوی وشي.»

د ولسي جرګې یو بل کاندید محمد اقبال تور لګوي چې په قرنطین شویو صندوقونو کې هم لاس وهنه شوې ده. خو دټولټاکنو دګډ دفتر دبهرنیو اړیکو مسوول میا ملنګ قادري دا تورونه رد کړل او ویې ویل چې دلته هر څه دبهرنیو او کورنیو ناظرانو دنظارت لاندې کیږي.

په کنړ کې په ائتلافي...

مونږ سره خبرې او پلانونه شریک کړی چې و توانیږو په مشترک ډول تصمیم ونیول شي. مل پاسوال عبدالغفار زیاته کړه چې بریدونه د افغانستان د دولت د مخالفینو کار دی خو چې نه غواړي په افغانستان کې امنیت تامین او دلته د بیا رغاونې او ابادی کارونه تر سره شي د یادونې وړ ده چې پدې سیمه کې د ائتلافي ځواکونو پر موټرو پداسې حال کې مخالف وسله وال برید کوی چې دوی څخه څو ورځې وړاندې هم د پیچ په دره کې ائتلافي ځواکونه د یو برید سره مخامخ شوی وو چې په ترڅ کې یې دوه امریکایي عسکر تپیان شوی وو.

د ځان مرګي بریدونو...

د ځان مرګي بریدونو کچه چې تر ډیره بریده ملکي او بې دفاع کسان په کې وژل کیږي را ټیټه شی په تیره یوه میاشت کې په افغانستان کې څو ځان مرګي بریدونه تر سره شوی چې زیات یې په کندهار او یو یې په کابل کې د ملی اردو د څو تنو سرتیرو ژوبل کیدو او تپي کیدو لامل وګرځید.

اراده
زیر نظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by: sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یک شماره ۳ افغانی